مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوالان: ډاکټر محمد حسین پاپلي یزدي
او ډاکټر فاطمه وثوقي
پښتو ژباړه: ع. ا . نجات

۲۰۲۲/۰۱/۲۷

# لویه تلوسه

## نهه ویشتمه برخه

## د اوبو بین المللی قوانین

## دریم څپرکی

**آمو دریا څخه ایران ته د اوبو رالیږدونه** ښایي د ځینو له نظره آموسیند څخه د ایران د ګټې اخیستو امکان ناشونی وبلل شي. خو د ایران ختیځ د اوبو له هغه شاني لږوالي سره مخامخ او اوبو ته اړتیا لري چې باید په نه چنداني لېرې راتلونکې کې ، حد اکثر په یوه شل کلن لورلید کې، په یو نه یو ترتیب د آمو دریا له اوبو څخه کار واخلي. په ۱۳۸۹ کال کې هم ایران ته د اوبو ترلاسه کولو او لیږدونې لپاره تاجکستان سره مذاکری ترسره کیدو په حال کې وي. البته لکه څنګه چې اشاره وشوه آمو دریا څخه د ګټې اخیستو پروژه د ایران ختیځ لپاره ډېره لوړه پرېوځي او د ډیپلماسی له مخې هم پېچلې ده. ځینو افغانستان له لارې د آمو دریا د اوبو لیږدونې د لومړنیو مخارجو اټکل ۲ ، ۳ ملیارده یورو په حدود کې تخمین کړَی دَی. دامهال دومره پانګه شتون نلري. ښایي دغه پروژه په نظر کې **(ژول ورني)** راشي **خو کله چې لګیا وو او دا ده لا هم لګیا یو، او د ایران د ختیځ ځمکې لاندې (ځمکې لاندې) اوبه مو تامولی بایده وو چې د دغه شان پروژو د لګښتونو سوچ مو کړای وای.** کله چې تږي شو دغه پول - پېسې به له هرځایه چې وي، ولو په پور وي باید پیدا کړو. خو کیدَی شي د قره قوم د کانال له لارې دغه لګښت ډېر راټیټ کړو. پیل کې بایده دي سیاسي نظره ښکاره شي کوم هېواد د اوبو د پلورلو او د آمو دریا د اوبو د راکړې (سپارل) حق مونږ ته راکوي؟

وړاندیز کیږي چې د دغه کار هراړخیزې مطالعې دې له همدې اوسنۍ مودې ترسره شي. فني او سیاسي مطالعات ترسره شوي خو ټولنیز او عرفي او بین المللي حقوقو مطالعات لا پیل شوي ندي. .باید وکتل شي د سیمې په خپلمنځي او بین المللي پېچلو شرایطو کې تاجکستان یا د سیمې بل هر هېواد د آمو دریا اوبه په یوازې توګه څنګه پلوري؟

آمو دریا څخه کاراخیستو لپاره ډېري سناریوګانې وړاندې (مطرح) کولای شو.

لومړی - له ډیپلماټیک نظره آمو سیند څخه ګټې اخېستنه نشو کولای یوازې یوه هیواد سره وړاندې بوزو. د موجودو هوکړو، معاهدو او کنوانسیونونو له مخې چې ځینې یې مخکې عنوان شول د آمو سیند له اوبو څخه ګټه اخېستنه شپږو هیوادونو تاجکستان، قرغیزستان، ازبکستان ، ترکمنستان او افغانستان سره په مذاکرو پورې تړلَی دي. لومړي پنځه هیوادونه آمو دریا او سیر دریا څخه کار اخیستو کې یو بل سره هوکړې هم لري. داچې له دغو هوکړو څخه ځینې یې د شوروي په مهال ترسره شوي دي اوسنَی روسیه هم په هغې څار لري د روسېې پښه هم پکې شامليږي.
آمو دریا څخه بی ډبه او بې ترتیبه اوبو لګونه د آرال سمندرګی د سطحې ډېري زیاتې رالویدنې (راټیټیدو) موجب شوَی دَی. د آمو دریا د اوبو ککړتیا سیمه کې سرطان ناروغی څخه د رامنځ ته شوي مرګ و میر د زیاتېدو لامل ګرځېدلی. د آرال بحیری په شاوخوا کې د سرطان د ناروغۍ ځینې ډولونه په نړی کې بی ساري دي. په سلګونو آباد ځایونه د آمو سیند په کوزنی(سفلی) برخه کې چې وړاندې د اورال بحیری په ګاونډ (غاړه) کې وې وچې شوې دي او وګړي بې بیځایه او هر لوری تللي دي. بندرونه تعطیل شوي او



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

کوشنی بیری په ختو کې ننوتي او خبني دي. په لسګونو زره بوختیاوې له لاسه تللي دي. بحیرې وچېدو څخه رامنځ ته شوو دوړو او غبار سیمه لانجو او ستونځو سره لاس ګریوان کړې ده . د آمو سیند ورځ تربلې زیاتیدونکي اوبه لګول به سیمې لپاره ناورین را منځ ته کړي.

لدې امله باید په بشپړ توګه پاملرنه وشي، آمو سیند څخه د اوبو زیات او بې ډبه لګښت به د ژوند چاپېریال نړیوال سازمان او د ژوند چاپېریال د (NGO) ګانو او د سیمې د خلکو له غبرګون او توندو مخالفتونو سره مخامخ شي. په اوسنیو شرایطو کې آمو دریا ته د ایرتیش اوبو له رالیږدوني او یا سیر دریا ته د ایرتیش اوبو له رالیږدوني پرته، آمو دریا څخه د اوبو لګونه (برداشت) ایران لپاره هغه کار دی چې توندو غبرګونونو او مخالفتونو سره به مخامخ شي. مګر داچې مونږ د سیمې هیوادونو له اوسنی اوبو ونډې څخه وپیرو. ساري په توګه د ترکمنستان له اوسنی ۲۲ ملیارد مترمکعب ونډې څخه یو مقدار وپیرو.

شوروی په وخت کې وړاندوینه شوې وه چې د یوه لوی کانال له لارې د اُب د څانګې ایرتیش اوبو څخه یوه برخه سیر دریا (سیحون) ته راوړې او د سیر دریا د اوبو په زیاتولو سره د آرال بحیرې سطحه لوړه شي. حتی لیدل شوي وو چې د سیحون اوبه جیحون سره وصل شي او یو کانال له اورال څخه خزر ته وتړل (وکېندل) شي. که پام کې وي چې د ایرتیش او اُب له اوبو څخه آمو دریا او اورال بحیرې ته اوبه ور زیاتي شي د روسېې پینه هرومرو رامنځ ته کیږي. ځکه چې د اُب او ایرتیش او بو سرچینې په روسیه کې دي. له کانال بغیر هم سیاسي پلوه د روسانو پینه دلته شامله ده .

| |
|---|
| باید په پام کې ونیول شي چې په منځني آسیا کې هیڅ هیواد په یوازې توګه (پخپله) نشي کولای مونږ ته اوبه راکړی. دغه کار (یوازی توګه) یاني د سیمې د هیوادونو ترمنځ توند او شدید اختلافونه ان د نښتو او جګړې را پورته کیدنه، کم له کمه پولیزې شخړې. |

البته تاجکستان د خپل همژبي هیواد ایران د سیاسي- نظامي او مالي ملاتړ ترلاسه کولو په لټه کې دی که څه هم زمونږ ډیپلماتان له هغه څه چې فکر کیږي زیات ځک او ځیرک دي چې د یوه هیواد په ملاتړ د نورو پنځو هیوادونو دښمني واخلي او هدف ته هم ونرسیږي.

سربیره پر دې آمو دریا پر سر یوازې تاجکستان سره هوکړه یاني د هوکړې سستوالی او نه ټینګښت. **که چېری تاکل شوې وي مونږ یوه هیواد سره هوکړی ته ورسیږو هغه یو هیواد باید افغانستان وي** نه تاجکستان. افغانستان د آمو دریا ۱۷ تر ۲۱ شاوخوا اوبه تولیدوي.او د آمودریا په **تړون کې شامل شوَی نه ده . په ۲۰۰۱ میلادی کال کې افغانستان د آمو سیند له اوبو له ۳ تر ۴ سلنې څخه زیات کار نه اخیست. نو افغانستان کولای شي د خپلو اوبو یوه برخه بل لوري ته وسپاري. البته که د آمو سیند اوبه افغانستان څخه وپیرودل شي د اوبو ترانزیتولو لپاره دریم هیواد ته اړتیا نشته.**: خو همدغه چار هم په کړنه او کولو کې ساده کار نه ده ځکه چې:

۱ ـ افغانستان اصولي توګه د ابو له امتیاز ورکولو سره جوړ ندی (مخالف دی) او افغان چارواکي په اوسنیو شرایطو کې (۲۰۱۱) د اوبو معاهدې ته حاضر ندي.

۲ ـ حتی افغانستان هم که چېرې ایران سره معاهده لاسلیک کړي د دغه هیواد او تاجکستان او د منځنی آسیا نورو ګاوندیانو تر منځ ستونځي رامنځ ته کیږي.

۳ ـ نړیوال سازمان په ځانګړې توګه د ژوند چاپېریال نړیوال سازمان به آرال بحیرې ته د ابو د بې ډبه ښکته کیدو له امله او د هغه د چاپېریالیز ژوند د تبعاتو او پایلو په دلیل پرلپسې اعتراضونه ولري.

۴ ـ افغانستان خاوره کې د ننه لارې څخه آمو د اوبو لیږدونی فني ستونځې او د آمو دریا او هریرود ترمنځ د تونل کېندل ساده کار نه دی او لویه پانګه غواړي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

۵ ـ ازبکستان او ترکمنستان له لارې دآمو دریا د اوبو راالیږدونه هم د هغوی له هوکړې پرته شوني نده. نو له **ثقلي** لارې د ایران شمالی پولو تر غاړې پورې د ابو لیږدونه به مذاکرو او یا دښمنیو ته د ټولو مرکزی آسیا هیوادونو پښې را د ننه کړي.

۶ – د منځنی آسیا هیوادونو د آمو دریا د اوبو پر سر په مذاکرو کې افغانستان نه دی بللی یا افغانستان پخپله ندي غوښتی مذاکراتو کې برخه واخلي. خو که مونږ وغواړو د آمو سیند له اوبو ګټه واخلو ولو وغواړو د تاجکستان او ازبکستان له لارې اوبه واخلو. ډیپلماتیک پلوه لازمه ده افغانستان سره خبرو اترو ته کښینو. آمو سیند څخه د اوبو انتقال جغرافیه یی نظره هم کیدی شي لاندې ډول بیلابیلی سناریوګانې ولري:

**افغانستان له لارې د آمو سیند د اوبو راالیږدونه:**

امکان لري افغانستان دولت سره زمونږ مذاکرات آمو دریا څخه د اوبو پر لیږدوني متمرکزې شي. آمو سیند څخه هریرود حوضي ته د اوبو لیږدونه پخپله پیچلَی فنی بحث غواړي. خو مونږ فنی نظره د دغه کار د کیدلو وس لرو . خو د اوبو د هرې لیږدوني مطالعات باید نړیوالو حقوقو او د ټولنیزو او عرفي له څیرنومسئلو او د حقابی وړونکو او د م سیر دخلکو د نظریاتو له مطالعاتو سره یو ځای ترسره شي. **د عرفي قوانینو او د خلکو د نظریاتو او د ځایي خلکو د حقابو له پیژندلو پرته نشو کولای په هره ثانیه کې په لسګونو مترمکعب اوبه په هغه رود کې چې دکلیو ښارونو او کروندو له منځه تیریږي او د هغوی ټول بې اوبو ته اړتیا لري، پریږدو او تمه ولرو چې سلګونه کیلو متره په هغه بل لورې کې د اوبو هماغه کچه ترلاسه کړو.** له دې امله که پام کې وی کوم وخت له آمو سیند یا بل هر ځای څخه(له سند، ایرتیش یا ولګا) اوبه ایران ته راولیږدول شي. باید هممهاله او له فنی بحثونو مخکې د کلیو، ښارونو، صنایعو او د مسیر د خلکو د اوبه برخې ټاکلو په برخه کې حقوقي او ټولنیزې مسئلې ترسره شي. لدې بغیر به ټول فني فعالیتونه تر پوښتنې او ګروېږنې لاندې راشي او یا به لږی اوبه ترلاسه شي. په هر صورت کې که ټاکل شوي وي افغانستان له لارې آمو سیند څخه اوبه ایران ته راولیږدول شي، طبیعی او اقتصادي نظره هرو مرو باید هریرود له لارې وي نو هغه وخت اوبه باید په کوم ځای کې ترلاسه کړو؟. له دوستی بند بغیر د یوه بل بند جوړونه به لازمه شي. ساري په توګه د شرشری په نوم پیژندل شوی سیمه کې کولای شو مخزنی بند جوړ کړو او اوبه ذخیره کړو. له هغه ځایه باید ایران کې د ننه مشهد، تربت جام ، تایباد یا خواف ته اوبه پمپ شي.

**ترکمنستان له لارې د آمو دریا د اوبو لیږدونه:**

د آمو دریا اوبو لیږدوني لپاره یوه بله لار ترکمنستان له لارې ده.

۱ – د هغو اوبو ونډه چې په آمو دریاب کې بې ترلاسه کوو کولای شو هغه قراقوم کانال له لارې سرخس ته مخامخ یا حتی ترکمن صحرا ته مخامخ سیمی ته ولیږدوو. داسې ښکاري چې ترکمنستان له لارې د آمو سیند د اوبو لیږدونه فني لحاظه هم زیاته اسانه وي. د اوبو جریان په ثقلي صورت سرخس ته مخامخ او ترکمن صحرا ته مخامخ ځای ته راځی له هغه ځایه اوبه ایران ته د ننه پمپ کړو.

۲ – ترکمنستان له ونډې د اوبو ترلاسه کول: ترکمنستان کلنی توګه له آمو سیند څخه ۲۲ ملیارد مترمکعب اوبو ونډه لري. د دغو اوبو لویه برخه ترکمنستان خاوره کې د ننه کروندو کې لګیږي. خو مونږ کولای شو مذاکری ته وارد شو او په کال کې د همدې اوبو یوه برخه تر ۲ تر ۴ ملیارد متر مکعب وپیرو او بیا یې ایران ته راولیږدوو.

شاید دغه توګه له ټولو کم مصرفه او ډېره بی دردسره لاره وي. البته د دغې چارې په امکان باندی باید ترکمنانو سره مذاکره وشي. ځکه چې پدې صورت کې باید ترکمنان خپله کرلاندې کچه راټیټه کړي او یا د اوبولګوني نوې لارې چارې بشپړ کړي یا د کرکیلې ډېره مناسبه بیلګه وکاروي (غوره کړي) یا دغه ټول کارونه سره یو ځای ترسره کړي. په هر صورت کې ترکمنستان په خاوره کې له ۲۲ ملیارد مترمکعب اوبو څخه د ۲ تر ۴ ملیارد مترمکعب اوبو سپماکول شوني ده ، دغه حللاره لنډ مهاله کې له ټولو لارو چارو بهتره ښکاري خو په اوږدمهال کې بایده ده تر دې هم لوېي او غنې لارې چارې ولټوو. ترکمنستان له خپل اقتصادي استقلال وروسته د ګازو او نفتو ګټو پر لور زیاته لیولتیا لري چې دې کار د کرکیلې برخې اهمیت راښکته کیدنې سبب شوی دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

البته ترکمنستان له لارې د اوبو لېږدونه به ځان سره یوه اساسي ستونځه ولري هغه اوبه چې ترکمن باشي کانال له لارې ایران ته راولیږدول شي په نسبي توګه به ځان سره زیاته ککړتیا ولري. او دا کار د دې دلیل له مخې دی چې د کرنې د کیمیاوي سرې او ناولو او ککړو اوبو، د قره قوم اوبه له ټاکلي او مجاز بریده زیاتي ککړې کړې دي. اټکلیزه توګه به د دغو اوبو د سپېڅنې( چانولو) لګښت په تېره بیا که چېرې وغواړي ځښاک لپاره يې ولګوي ډېر لوړ وي. همدې حال کي باید وګورو دغه اوبه چیرته لګول کیږي. د دي احتمال لېدل کیږي چې دغه اوبه د ګلستان ولایت کرهنې ته په ځانګړي ډول د ترکمن دشتي کوزني اترک سیمو کي او د اینچه برون او داشلی برون شاوخوا ځمکو او د آلاګل ډنډونو (بحیرو) ته ورکړل شي. پدې صورت کي کولای شو اوبه په داسي ډول ولیږدوو چي پمپولو ته اړتیا و نه لیدل شي. که کومه ورځ دغه کار وشو هغه مهال کیدای شي اجازه ورکړو چې شمالي خراسان ولایت د اترک له اوبو او د اترک له سرچینو ځخه نورې زیاتي اوبه ترلاسه کړي. یاني د ګلستان ولایت آمو دریا له اوبو ځخه قره قوم کانال له لارې ګټه واخلي او شمالی خراسان د اترک او د هغه د سرښاخونو له اوبو ځخه زیاته استفاده وکړي.

**حقوقي نظره د آمو سیند د اوبو لیږدونه:**

حقوقي نظره د آمو سیند د اوبو لیږدوني لپاره کم له کم ۶ غوراوي / انتخابه شتون لري. که ټاکل شوې وي آمو سیند پرمخ تاسیسات ودرول شي او آمو سیند ځخه ایران ته اوبه راشي زمونږ ډیپلماسي کم له کمه شپږ غوراوې په پام کي ونیسي.

۱ ـ یوازې تاجکستان سره خبرې اترې: مونږ تاجکستان ځخه اوبه وپیرو او تاجکستان پخپله زمونږ د اوبو رانیولو مسئله له نورو حقابه اخیستونکو هیوادونو سره حل او فصل کړي. خو د اوبو د ترانزیټ مسئله به ترکمنستان او یا افغانستان له لارې مطرح شي .

۲ ـ یوازی افغانستان سره خبرې اترې: افغانستان ځخه د اوبو په پیرودنې سره، افغانان پخپله نورو سره مسئلې هواره کړي. افغانان د آموسیند په اوبو کي کم له کمه ۱۷ سلنه برخه لري خو دا مهال کابو ۳ سلنې اوبو ځخه کار اخلي. په هغه صورت کي چي افغانستان سره د آمو اوبو په اړه هوکړې ته ورسیږو، یوه خوبایی لري چي افغانستان به پخپله هم هغه هیواد وي چي د هغه له لارو به اوبه ترانزیتوو. په دې صورت کي مونږ عملاً حقوقي نظره یوه حکومت سره اړیکه لرو. یاني مونږ د افغانستان له برخي اوبه اخلو او پخپله افغانستان سره تړون کوو چي د ایران په پوله کي (البته د بیځایه ضایع شویو اوبو په محاسبی سره ) هماغه مقدار اوبه ترلاسه کوو.

۳ – ترکمنستان سره مذاکره: مونږ د ترکمنستان اوبو ونډه پیرو. مونږ په سرخس پوله کي یا په هر هغه ځای کي چي فني مطالعي اجازه ورکړي، اوبه تسلیمیږو. پدې صورت کي دا ترکمنستان دَی چي نوره هوکړې نورو ذی نفعو سره پخپله ترسره کوي.

۴ ـ افغانستان او تاجکستان سره مذاکرې: که پام کي وي مونږ د افغانستان او تاجکستان په پوله کي د تاسیساتو په جوړونه کي داخل شو، باید هرو مرو دغو دواړو هیوادونو سره خبرې وکړو، او هوکړې ته ورسیږو. دغه دواړه هیوادونه خپلې نورې مسئلې د حوضې له نورو هیوادونو سره هواروي.

۵ ـ افغانستان او ازبکستان سره مذاکره : امکان لري وغواړو د آمو سیند اوبه د ازبکستان او افغانستان ګډې پولې په کومه سیمه کي راواخلو پدې صورت کي بیا هم څو غوراینې لرو:

۱ . ۵ – افغانستان او ازبکستان دواړو هیوادونو سره مذاکره .

۲ .۵ . ټولو ذی نفعه هیوادونو سره یا هغو ټولو هیوادونو سره مذا کرې چې غواړي اوبه د هغوی له لارې ترانزیټ شي.

۶ – د مرکزي آسیا ټولو هیوادونو سره او افغانستان سره مذاکرې

۷ – وړاندیزي او د اوچتې کچې غوراوی: **د روسیې په نظارت+ افغانستان منځنی آسیا هیوادونو په ګډون له ټولو ذینفعه هیوادونو سره مذاکره**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

دغه حقوقي انتخاب/غورا‌ینه ښایي ډېره اوږده لاره وي، خو تر ټولو ډاډمنه لار ده. پدې غوراینه کې اصلي ستونځه دادی چې افغانستان هم بایده دي پدې ډله کې حضور ولري. لدې امله افغانستان باید دغو هیوادونو سره هوکړي ته ورسیږي. په واقعیت کې هماغه شاني چې مونږ په اقتصادي جوړښت کې د اکو سازمان غړی یو، بایده دي د اکو د هایدرولوژي جوړښت فعال غړی هم و اوسو او حتا که لازمه شي ګاونډیو او ذینفعه یا د اوبو ذیمدخل هیوادونو سره د ملګرو ملتونو سازمان په مستقیم نظارت یا د یونسکو په چوکاټ کې نوي ساختارونه جوړ کړو.

(۳۰ )( د یونسکو په نوي برنامه کې او د ۲۰۱۰ او ۲۰۱۱ کال په بودیجه کې د یونسکو تر ملاتړ لاندی ۶ نوي مرکزونه تصویب شوي دي. دغه شپږ مرکزونه عبارت دي له : دومینیکن جمهوریت کې سانتودومینګو ښار کې کارایب سیند کې پرتو جزایرو د هیوادونو د اوبو د سرچینو د پایشتمن مدیریت مرکز. فدرال آلمان جمهوریت کې د اوبو د سرچینو او د نریوالو بدلونونو مرکز. پرتګال کې ساحلي اکو هیډرولوژي نړیوال مرکز. د برازیل فدرال جمهوریت د میناس ګرایس ایالت په شمال کې فروټال ښار کې د (Hidrox) د زدکړې، ظرفیت جوړوني او کاروونکو تحقیقاتو بین المللي مرکز. د آمریکا ویرجینیا ایالت الکساندر ښار کې د اوبو او انرژی زیرمو موسسي په کوربه توب د (ICIWARM) اوبو سرچینو سره نغښتي مدیریت نړیوال مرکز او اندونیزیا کې APCM اکو هیډرولوژی آسیا اوقیانوسیې مرکز او یونسکو ترڅار لاندې نوي تاسیس شوي مرکزونه. وړاندوینه کیږي چې د دغه نویو مرکزونو تاسیسیدنه په ټوله نړی کې د خوږو اوبو په بیلابیلو زمینو کې یونسکو تر ملاتړ لاندی اوبیزو مرکزونو د غځېدلو شبکو د ځواکمنیدو لامل شي) .

یاني په سر کې بایده دي ملګرو ملتونو سازمان تر څار لاندې د مرکزي آسیا، او د اُب سهیل لویدیځ، ایرتیش، سیردریا او آمودریا (هریرود ، هلمند، سند) لپاره د اوبو تر سرلیک لاندې یوه کارډله یا ګډ بین المللي کمیسیون تشکیل شي. وروسته دي دغه کمیسیون د اوبو د ویش او پانګوني معاهدي او پریکړې مشخصي کړي .

دغه غوراینه او خوښون چې ډېري اوږدي او پیچلي مذاکرې به ولري، ډېر پایښتمن او باثباته هوکړې به هم ورسره مل وي. په تېره بیا راتلونکې لپاره به که مونږ وغواړو د سایبریا له اوبو څخه ګټه واخلو حقوقي مساعده زمینه ، زمونږ په واک کې راکړي.

البته اقتصادي پلوه ګټوره ده چې د آمو دریا اوبه په مهمه برخه کې چې له ټقلي نظره اوبه جریان لري موجودو رودونو او کانالونو ته ولېږدول شي. په هر حال آمو سیند څخه د پیرودلو په صورت کې بایده دي د کلیو، او کروندو او د ذی نفعو او ذیدخلو اوبو او حقابو حقوقي او عرفي مسئلې مطالعه شي. دغه سندونه باید د پروتوکل په بڼه معاهدو سره مل وي او که نه دغه احتمال، شتون لری ، چې په نیمه لاره کې اوبه حقابه نه لرونکو او یا له حقابې زیاتو اوبو اخیستونکو کروندګرو له خوا وکارول شي او عملي توګه ایران ته هیڅ اوبه راونرسیږي. په ځانګړې ډول که ټاکل شوي وي د آمو سیند اوبه هریرود له لارې چې نسبي توګه زیات جمعیت لرونکي او د کرکیلې د پراخیدو مستعدی سیمي دي، ولیږدول شي. البته دا معمول دی چې تولیزه توګه منځګړې/ واسط دولت سره یانی هغه دولت چې اوبه هلته ترانزیتیږي قرارداد ترل کیږي. په محل کې د اوبو ټاکلې اندازه ترلاسه کیږي. تبخیر شوې او یوځه ضایع شوې اوبه محاسبه کیږي او پاتې نور بې په پوله کې ترلاسه کیږي البته شوني ده چې اوبه تولیزه توګه غټو نللیکو کې ولیږدول شي. پدې صورت کې به لګښت ډېر لوړ وي. خو اوبه په ډېرې روغی سالمي او له ضایع کېدو پرته ایران ته راورسیږي. د اوبو د نل لیکو او کانالونو ساتنه پخپله یو حقوقی – امنیتي مبحث دی چې باید مطالعه شي.

نوربیا

**د آمو سیند اوبو په لیږدونه کې مهمه سناریو**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځير و لولئ